بني اسرائيل د پيغمبرانو تر مشر لاندې وو، کله چې به يو نبي وفات شو، بل نبي به يې ځای ناستی شو، خو زما نه وروسته به بل نبي نه وي، بلکې خليفه‌ګان به وي

له ابو حازم څخه روايت دی وايي چې: ما له ابو هريره رضی الله عنه سره پنځه کاله تېر کړل، ما له هغه څخه اوريدل چې د پيغمبر صلی الله عليه وسلم څخه يې حديث بيانوه چې، «بني اسرائيل د پيغمبرانو تر مشر لاندې وو، کله چې به يو نبي وفات شو، بل نبي به يې ځای ناستی شو، خو زما نه وروسته به بل نبي نه وي، بلکې خليفه‌ګان به وي او زيات به شي»، هغوی وويل: «نو ته مور ته څه امر کوې؟» هغه وفرمايل: يو د بل پسې چې خليفه کېږي، نو بيعت ورسره کوئ، هغوی ته يې حق ورکړئ، ځکه الله به له دوی نه د هغه مسؤوليت (پوښتنه کوي چې ورسپارلی يې دی (د رعيت د چارو په اړه».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

نبي خبر ورکړی چې بني اسرائيل به د پيغمبرانو تر قيادت لاندې وو، او د هغوی چارې به يې داسې مخته وړلې لکه څرنګه چې اميران او واليان د خپلو رعيتونو چارې سمبالوي، هرکله به چې په دوی کې کوم فساد خپور شو، نو الله به هغوی ته يو نوی نبي راولېږه، تر څو يې ديني چارو ته نظم ورکړي او هغه بدلونونه لرې کړي چې هغوی به په احکامو کې راوستې وو. او بېشکه زما نه وروسته به بل نبي نه وي، چې د پخوانيو پيغمبرانو کارونه ترسره کړي، خو زما نه وروسته به خلفاء راشي، هغوی به زيات شي، او تر منځه به يې اختلاف او شخړې پېښېږي. نو صحابه کرامو له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه چې ته (هغه مهال بيا) مور ته څه امر کوې؟ نو هغه وفرمايل: کله چې له يو خليفه پسې د بل خليفه سره بيعت وشو؛ نو د اول بيعت صحيح دی او وفا کول پرې واجب دي او د دويم بيعت باطل دی، او پر هغه حرام دي چې له خلکو يې وغواړي، او هغوی ته يې حق ورکړئ، د هغوی اطاعت وکړئ او ورڅخه په اوربدو او له ګناه پرته په اطاعت کولو ورسره ژوند وکړئ، ځکه يقينا چې الله تعالی ترې پوښتنه کوي او د هغه څه په اړه ورسره محاسبه کوي چې په تاسو يې کوي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/4936